د افغانستان بانک

د غیر بانکی مالی مؤسسو د څارنې لوی آمریت

د جواز ورکولو او صرافانو د څارنې مرستیالیت

د مقرراتو ستر مدیریت

گڼه: ..... ۷۱۶۳ / ۹۹۱۱ / ۴۷۸۶ / ۹۲۲۰

نېټه: ۱۴۴۸/۰۱۰۴/.....

بسم الله الرحمن الرحیم

د صرافۍ او پولي خدمتونو ټولو محترمو اتحادیو ته!

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته و بعد:

موضوع : په ټاکل شوې موده کې د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکتونو د فعالیت جوازونو نوی کول (تمدیدول)

ماهیت: متحدالمال

د ډیر درناوی په وړاندی کولو سره؛

د افغانستان بانک د صرافانو او پولي خدمتونو د څانګې قانون پر بنسټ، چې د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د ۰۷/۰۹/۱۴۴۷ نېټې د ۲۵ ګڼې فرمان له مخې نافذ شوی، د یاد قانون د (۴)مادې (۵) فقرې په اساس د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکتونه مکلف دی چې په هرو دریو کلنو کې خپل د فعالیت جواز نوی (تمدید) کړي.

پداسی حال کې، چې د یو شمېر صرافۍ او پولي خدمتونو شرکتونو، د ټاکل شوې مودې له تېرېدو او د فعالیت جواز د اعتبار مودې له پای ته رسېدو څخه د دریو میاشتو یا تر هغه د زیات وخت له تېرېدو او د تعقیبي مکتوبونو د صادرېدو سربېره، تر اوسه د جواز د تمدید په موخه دې اداري ته مراجعه نه ده کړې او یا یې د جواز د تمدید بهیر نه دی بشپړ کړی، او لا هم د اعتبار مودې له پای ته رسېدلو جوازونو سره خپلو فعالیتونو ته دوام ورکوي.

له همدې امله، د افغانستان بانک د عامل پلاوي (۵۴۱) ګڼې ۱۴۴۷/۱۲/۰۲ نېټې تصویب او د دې اداري د عالي مقام د (۷۵۶) ګڼې ۱۴۴۸/۰۴/۲۹ نېټې حُکم له مخې، د صرافۍ او پولي خدمتونو هغه شرکتونه چې د فعالیت جواز د اعتبار مودې له پای ته رسېدو څخه یې درې میاشتې تېرې شوې وي، خو د جواز د تمدید په موخه یې دې اداري ته مراجعه نه وي کړې او یا هم د تمدید بهیر یې نه وي بشپړ کړی، د یاد شوي حُکم له نېټې څخه د تر (۴۰) ورځو مهلت ورکول کېږي، ترڅو خپل د فعالیت جوازونو د تمدید بهیر د بشپړولو په موخه دې اداري ته مراجعه وکړي .که چېرې په ټاکل شوې موده کې یاد شرکتونه مراجعه ونه کړي، د هغوی د فعالیت جوازونه به فسخ شي.

له همدې امله، د صرافۍ او پولي خدمتونو ټولو محترمو اتحادیو ته لارښوونه کېږي چې دا متحدالمال د خپلو اړوند ټولو صرافۍ او پولي خدمتونو شرکتونو سره د خبرتیا او راتلونکو کړنو په موخه شریک کړئ.

د افغانستان بانک له فرصت څخه په ګټې اخیستو تاسو ته په سپارل شوو چارو کې د لا زیاتو بریاوو هیله کوي. **والسلام.**

نوراحمد آغا

د افغانستان بانک د ټولو رئیس

کاپي:

- د فتر ریاست د قدر وړ لوی آمریت ته.(د زونونو سره د شریکولو په موخه)

د افغانستان بانک، ابن سیناوات، کابل افغانستان/ تیلیفون۲۱۰۴۷۶۱ (۲۰) ۰۹۳ /. ایمیل:
ټولنیزې شبکې فیسبوک - د افغانستان بانک / ټویټر - @GCentralbank